مؤسس: عبدالرووف بېنوا تأسيس کال: ۱۳۲۸ لمريز

هېواد
ورځپاڼه

چهارشنبه | ۷ / صفرالمظفر / ۱٤٤۸ هـ ق | ۳۱ / چنګابې / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/22 م | خصوصي ګڼه: ۹۲ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰٦۳ مه | دوره: اتمه

هېواد کې د لس زره ميګاواټه برېښنا د تولید پروژو لپاره تخنيکي وسايل پېرل شوي

دریاست‌الوزراءاقتصادي مرستیال، ملا عبدالغني برادر اخوند له افغان سوداګر او پانګوال، میرویس عزیزي او د هغه له تخنیکي ټیم سره کتلي او پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې شوې دي.

په دې کتنه کې ښاغلي عزیزي ویلي، چې د عزیزي انرژی پانګونې شرکت د لس زره ميګاواټه برېښنا د تولید لپاره ټول تخنیکي وسایل پېرلي او ژر به يې هېواد ته د لېږد چارې پیل کړي.

بلخوا د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت په مشرۍ اروندو امارتي ادارو او یاد شرکت له استازو څخه جوړې شوې تخنیکي کمېټې راپور وراندې کړی، چې له مخې يې د کابل ولایت په نغلو سیمه کې د ۱۰۰ ميګاواټه لمریزې برېښنا، د پروان په باریک‌اب سیمه کې د ۱۰۰ ميګاواټه لمریزې برېښنا او په غزني کې د ۱۳۱ ميګاواټه لمریزې برېښنا پروژو د امکان سنجی مطالعات بشپړ او د برېښنا د پېر ټرونونه يې لاسلیک شوي.

په دغه راپور کې راغلي، چې د دې ترڅنګ په تخار کې له ډبرو سکرو څخه د ۱۶۵ ميګاواټه برېښنا، په بغلان ولایت کې له ډبرو سکرو څخه د ۳۵۰ ميګاواټه برېښنا، د نغلو او غزني سب‌سټېشنونو جوړولو او د کابل له ټرهخېل سیمې څخه تر صنایع سبز پورې د انتقالي لین غځولو پروژو پر تخنیکي موضوعاتو بحثونه روان دي.

سرچینې لیکلي، چې په دې کتنه کې ښاغلي برادر د دې تخنیکي کمېټې لاسته‌راوړنې ستایلې او اروندو امارتي ادارو ته يې د کارونو د لا چټکتیا په موخه لازمې سپارښتنې کړې او د بشپړې همکارۍ ډاډ يې ورکړی دی.

سهیل شاهین:

د یوناما نوې مشره دې د افغانستان واقعیتونه نړۍ ته ورسوي

په دوحه کې د اسلامي امارت د سفارت سفیر، سهیل شاهین د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړې استازې او د یوناما د مشرې په توګه د رباب فاطمې د ټاکل کېدو هرکلی کړی او هیله يې څرګنده کړې چې نومورې به د افغانستان دیني او کلتوري ارزښتونو ته په پام سره، د شته ستونزو د حل او له نړیوالې ټولنې سره د تعامل د پیاوړتیا لپاره هڅې وکړي.

ده رسنیو ته ویلي: «هیله لرو چې د ملګرو ملتونو نوې استازې د افغانستان د دین، فرهنګ او واقعي وضعیت په رنا کې د دغه هېواد د ستونزو د حل لپاره هڅې وکړي، د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د لاډېر تفاهم زمینه برابره کړي، د افغانستان ریښتینی . . .

۳مخ

له بیجینګ څخه هرات ته د لومړي مستقیم ټرانزېټي اورګاډي تګ پیل شو

ایراني رسنیو راپور ورکړی، چې د بیجینګ - ایران - افغانستان پر مسیر د لومړي مستقیم ټرانزېټي اورګاډي تګ پیل شوی او ۵۰۰ ټنه بار يې د ایران د اورګاډي شبکې له لارې هرات ولایت ته لېږدولی دی.د ایران ـ افغانستان د اورګاډي دهلیز مشر مصطفی رضایي ویلي، دا لومړی خل دی چې بار له چین څخه افغانستان ته د لارې په اوږدو کې له ښکته کېدو او بیا بارولو پرته په مستقیم ډول لېږدول کېږي.

د نومورې پېښې وینا، پېښه دې بار کې فایبري تختې شاملې دي چې له بیجینګ څخه بار شوي، د ترکمنستان او ایران له لارې د خواف ـ هرات د اورګاډي کرښې په وسیله د هرات روزنک تم‌ځای ته رسېدلې دي.

ده زیاته کړې، چې دا نوې لاره به د توکو د لېږد وخت او لګښتونه د پام وړ راکم کړي.بل لور ته، د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ویلي، چې د منځني ختیځ د ورو‌ستیو کرکېچونو له امله د چابهار، بندر عباس او جبل علي له بندرونو افغانستان ته د توکو ټرانزیټ ستونزمن کړي افغانستان هڅه کوي د سیمه‌ییزو ټرانزېټي . . .

۳مخ

سرلیکنه

د انرژۍ سترې پانګونې؛ د افغانستان اقتصادي راتلونکي ته نوې هیلې

د افغانستان د اقتصادي ودې، صنعتي پراختیا او پانګونې د زیاتوالي لپاره د برېښنا تولید له تر ټولو مهمو اړتیاوو څخه دی. د هېواد د انرژۍ کمښت له کلونو راهیسې د صنعت، کرنې او خصوصي سکټور پر وړاندې ستر خنډ پاتې شوی، ځکه نو هره هغه پانګونه چې د کورنۍ برېښنا تولید ظرفیت لوړوي، د اقتصادي پرمختک په لور یو عملي ګام ګڼل کېږي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د عزیزي انرژی پانګه‌وني شرکت له عمومي رییس میرویس عزیزي او د هغه له تخنیکي ټیم سره په لیدنه کې د انرژۍ او روغتیا د مهمو پروژو په اړه خبرې کړې دي. د خبرپانې له مخې، میرویس عزیزي ویلي چې د لس زره ميګاواټه برېښنا د تولید لپاره يې ټول تخنیکي تجهیزات پېرلي او دېر ژر به هېواد ته ولېږدول شي. نومورې همدارنګه اعلان کړی چې په نړۍ د راتلونکي کې به د سرطاني ناروغیو د درملنې د یوه لوی روغتون د جوړولو چارې هم پیل کړي.

په همدې لړ کې، د اقتصادي معاونیت تر مشرۍ لاندې تخنیکي کمېټې خپل راپور هم وړاندې کړی چې له مخې يې د کابل نغلو، پروان باریک‌آب او غزني کې د ټولټال ۳۳۱ ميګاواټه لمریزې برېښنا پروژو د امکان‌سنجی مطالعات بشپړ شوي او د برېښنا د پېر ټرونونه هم لاسلیک شوي دي. سربېره پر دې، په تخار او بغلان کې د ډبرو سکرو پر مټ د برېښنا د تولید، د سب‌سټېشنونو د جوړولو او د برېښنا د انتقالي لینونو د غځولو پروژې هم وروستي پراو ته رسېدلې دي. که د لس زره ميګاواټه برېښنا د تولید دا ستره طرحه د پلان له مخې عملي شي، دا به د افغانستان په معاصر تاریخ کې لومړی ځل وي چې هېواد د دومره لوی کورنۍ برېښنایي ظرفیت خاوند کېږي. دا یوازې یوه عادي پروژه نه ده، بلکې د انرژۍ په برخه کې د یوه تاریخي بدلون نښه ده چې کولی شي د هېواد اقتصادي او صنعتي وضعیت په بشپړه توګه بدل کړي.

کله چې افغانستان د خپلې اړتیا وړ برېښنا په کور دننه تولید کړي، د وارداتي برېښنا لګښت به په پراخه کچه راکم شي، فابریکې به په ټیټ لګښت تولید وکړي، پانګونه به لا زیاته شي او د صنعتي ودې نوی فصل به پرانېستل شي. که د تولید کچه تر کورنۍ اړتیا واوړي، افغانستان به دا وړتیا پیدا کړي چې اضافي برېښنا ګاونډیو هېوادونو ته هم صادره کړي او د انرژۍ له لارې په سیمه کې د عوایدو نوې سرچینه رامنځته کړي.

دا ډول سترې پانګونې ښیي چې افغانستان د مصرفوونکي هېواد له مرحلې د تولیدوونکي هېواد پر لور حرکت کوي. د برېښنا تولید، د روغتیایي پروژو پراختیا، د خصوصي سکټور پراخه ونده او د انرژۍ په برخه کې ځانبسیا هغه بدلونونه دي چې د هېواد اقتصادي راتلونکی پیاوړی کوي. که دا پروژې د ټاکل شوي مهالوېش له مخې بشپړې شي، افغانستان به نه یوازې د انرژۍ په برخه کې پر خپلو پښو ودرېږي، بلکې د سیمې د برېښنا د مهمو عرضه کوونکو هېوادونو په کتار کې به هم د درېدو وړتیا ترلاسه کړي.

د افغانستان سوداګریز پلاوی د اقتصادي همکاریو د پراختیا لپاره ازبکستان ته په سفر تللی

د سوداګرۍ او پانګونې خونه وایي، چې د دې اداري د رئیس، سید کریم هاشمي په مشرۍ یو لوړ پوړی پلاوی او له ۱۰۰ زیات افغان سوداګر په درې ورځني سفر ازبکستان ته تللي.

د یادې اداري په وینا، په دې سفر کې د سیردریا ولایت له سیمه‌ییزو چاروا‌کو سره لیدنې، د سوداګرو ترمنځ د «B2B» غونډو . . .

۳مخ

مالیزیا کې افغان سفیر له خپل ترکي سیال سره د دوه اړخیزو اړیکو پر پراختیا خبرې کړې

په مالیزیا کې د افغانستان سفارت سفیر، نقیب‌الله احمدي، برونای دارالسلام ته د سفر په ترڅ کې په دې هېواد کې د ترکیې له سفیر حامد ایرسوی سره لیدنه کړې. مالیزیا کې د افغانستان سفارت وایي: په دې لیدنه کې د افغانستان او ترکیې د تاریخي اړیکو او د دوه اړخیزه اړیکو د پراختیا د لارو چارو په اړه خبرې شوې دي.همدارنګه یاد سفارت زیاته کړې، چې ښاغلي احمدي ورته مهال د برونای دارالسلام له مفتي اعظم دوکتور حاجي اوونګ عبدالعزیز



سره هم لیدنه کړې ده. د دغه سفارت په وینا: په یاده لیدنه کې د افغانستان او برونای دارالسلام په دیني او ټولنیز وضعیت سربېره د دواړو هېوادونو په ترڅ هر اړخیز معلومات وړاندې شوي دي او دغه‌راز دواړو لوریو د دیني علماوو د رول، کډو علمي او کلتوري فعالیتونو او په راتلونکي کې د اړیکو او همکاریو د لا پراختیا په اړه ګډې خبرې کړې دي.

پکتیکا کې څه باندې ۱۵ زره جریب ځمکه دولتي تثبیت شوه

د عدلیې وزارت وایي، چې د پکتیکا په یوسف‌خېلو ولسوالی کې څه باندې ۱۵ زره جریب ځمکه د اختصاصي محکمې د پرېکړې له مخې امارتي تثبیت شوې ده.

عدلیې وزارت د سه شنبې په ورځ په خبرپانه کې ویلي، چې د مرکزي زون د امارتي غصب شویو ځمکو قضیو ته د رسېدنې اختصاصي محکمې د پکتیکا په یوسف‌خېلو ولسوالی کې د ۱۵ زره او ۲۷ جریب ځمکې د اسنادو او مدارکو په بررسي سره پرېکړه وکړه، چې ټوله یاده ځمکه امارتي ده.

سرچینه زیاتوي، دا ځمکه د یوسف‌خېلو ولسوالی د میست کلي په اووه کیلومتری کې موقعیت لري او د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد کمېسیون له دې وړاندې د هغې موضوع ارزولې وه.

خبرپانه کې راغلي، همدارنګه د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شویو ځمکو د استرداد قانون د ۱۷مې مادې له مخې، د یادې ځمکې دوسیه په رسمي توګه د مرکزي زون د امارتي غصب شویو ځمکو قضیو ته د رسېدنې اختصاصي محکمې ته سپارل شوې وه.

سرچینې لیکلي، یادې . . .

۳مخ

کندهار؛ د دامان ولسوالی عمومي روغتون د بنسټ ډېره کېښودل شوه

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي کندهار ته د خپل سفر په بهیر کې؛ د شاوخوا ۵۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د دامان ولسوالی عمومي روغتون د بنسټ ډېره کېښوده. د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو له مخې؛ مولوي نور جلال جلالي په همدې مناسبت جوړو شویو مراسمو کې، د ناروغانو ستونزو د راکمېدو او د اړینو روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو په لاره کې د یاد روغتون جوړېدل . . .

۳مخ

اروپایي ټولنې، ایران او جاپان د نورستان له سېلاب ځپلو سره خواخوږي ښودلې

په افغانستان کې د اروپایي ټولنې استازولی د نورستان سېلاب‌خپلو سره خواخوږي ښودلې او د قربانیانو کورنیو ته يې تسلیت ویلی دی.

دغې استازولی پر خپلې ایکس پاڼه لیکلي، چې دغه ټولنه د دغو ویجاړوونکو سېلابونو د زیانمنو ترڅنګ ولاړه ده او هیله څرګندوي چې لادرکه کسان ژر وموندل شي.

دغه‌راز له دې وړاندې په کابل کې د ایران سفارت په نورستان او د افغانستان په نورو ختیځو سیمو کې د سېلابونو راوتلو له امله خواشیني ښودلې وه. یاد سفارت په یوه خبرپانه کې د شهیدانو له کورنیو سره خواخوږي او ټپیانو ته د بېرنۍ روغتیا هیله څرګنده کړې.

د یادونې وړ ده، چې د افغانستان په ختیځ نورستان کې د چنګاښ ۲۹مه د سختو بارانونو له امله راوتلو سېلابونو درنه مرګژوبله او پراخ مالي زیانونه اړولي دي.

د پېښو پر وړاندې مبارزې او چمتووالي اداري . . .

۳مخ

د نفتو او ګازو شرکت؛ هڅه کېږي چې هېواد کې ارزانه اوبلن ګاز وړاندې شي

د افغانستان د نفتو او ګازو دولتي شرکت ویلي، د بازار د ثبات ساتلو او هېوادوالو د اړتیاوو برابرولو په موخه په یو شمېر ولایتونو کې د اړونده شرکت د پلور مرکزونه په مناسبه بیه اوبلن ګاز وړاندې کوي.

د یاد شرکت په وینا، اوس مهال د دغه شرکت په پلورنځیو کې د کابل او پروان ولایتونو کې د هر کیلوګرام مایع ګاز بیه ۶۶ افغانی، په بدخشان کې ۶۷ افغانی، په بلخ کې ۶۴ افغانی او په هرات کې ۶۰ افغانی ده.یاد شرکت همداراز زیاته کړې، هڅه کوي چې د هېواد په بېلابېلو برخو کې د خلکو اړتیاوو ته په وخت رسېدنه وکړي او د اوبلن ګاز د منظمې عرضې له لارې د بازار ثبات وساتي. د مسؤلینو په وینا، د پلور د مرکزونو پراختیا، د بیو کنټرول او د باکیفیته خدماتو وړاندې کول د شرکت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي، ترڅو هېوادوال وکولای شي اوبلن ګاز په مناسب قیمت او اسانه . . .

۳مخ

مصنوعي ځیرکتیا؛ د نوي انقلاب پر درشل کې

استاذ اظهار بابک

له هغه وخته چې مصنوعي ځیرکتیا یا AI عامه شوې او هر ځوک ترې استفاده کولی شي، زما په ذهن کې ځینې جدي پوښتنې او اندېښنې پیدا شوې دي. دا اندېښنې یوازې تخنیکي ارخ نه لري؛ بلکې سیاسي او امنیتي ابعاد هم لري. د سیاسي علومو ډېرى متخصصیــن انقلاب هغــه ژور بدلون ته وایي چې د انســانانو د ژوند په درې اساسي برخو لکه سیاست، اقتصاد او ټولنیز نظــام کې، په یوه یــا څو برخو کې بنســتیز بدلون راولي. لکه د کمونیزم انقلاب چې د روسیې په اقتصادي برخه کې یې لوی بدلون راوســت. همدا ډول د فرانســې انقلاب چې سیکولر سیاسي سیســتم یې ته لار هواره کړه چې په پایله کیې یې دین او دولت سره جلا شول او د وحي ارجحیت عقل ته ورکړل شو.

همدا ډول صنعتي انقلاب هم د انســان د مټــو او فزیکي قوت پــه برخه کې ژور بدلون راوســت، او دا بدلــون په یو ډول د ځــواک انقلاب و چې پــه نړۍ کې په صنعتي انقلاب مشهور شو، چې د بخار له ماشــین ځخه پیل د نن ورځې تر ډېرو پرمختللو کمپیوټرونو پورې وغځېد چې د ژوند ډېرې برخې یې اغېزمنې کړې، په ځانګړي ډول د تولید، سفر او جګړو هغه پخوانۍ او کلاسیکه بڼه ورسره بالکل بدله شــوه ځکه هغه کار چې پخوا به په کلونو کې ترسره کېده، وخت یې میاشتو، ورځو او ســاعتونو ته را لنډ شو. شرقي او غربي بلاکونو له دې انقلاب ځخه د اقتصاد او سیاســت په ډګر کې پراخه ګټه واخیسته. جرمني سترہ جنګي ماشینري پرې جوړه کړه، امریکا د اټومي بــم د جوړولو لپاره د مانهاټن پروژې پــر مټ اټومي بم جوړ کړ، شوروي اتحاد او چین هم له صنعتي انقلاب ځخه د خپــل نفوذ لپاره اعظمي استفاده وکړه. خو بل خوا اسلامي نړۍ!

اسلامي نړۍ، سره له دې چې لوی نفوس او ســترې طبیعي زېرمې یې لرلې او لري یې، پــه دې ســتر بدلون کې تــر ډېره د مصرفوونکي مارکېټ په توګه پاتې شــوه. نن دا حال دی چې ډېرى اسلامي هېوادونه دا خپله لویه بریا او پرمختګ بولي چې له امریکا، چین یا روسیې ځخه د پرمختللي صنعت یا نظامي ماشــینرۍ د اخیســتلو یوازې یو جواز ترلاسه کړي. اسلامي نړۍ په ټوله کــې نه خپلواک صنعت لري او نه تخنیکي استقلالیت.

افغانستان بیا د نورو اسلامي هېوادونو په پرتله د صنعت په برخه کې لا ډېر وروسته پاتې دی. کلونو جګړو او د پردیو لاسوهنو زمــوږ د صنعت برخه دومره ځپلې چې د تراکتور لپاره وړې پرزې او سړې اوسپنې هم له نورو هېوادونو ځخــه راواردوو. په داســې حال کې چې موږ د کرنې، اوبو او طبیعي زېرمو پراخې سرچینې لرو، زموږ خام مواد او معادن پــه ډېره ابتدایي بڼه په اېکســکاواټورونو او کوچنیو ماشــینریو اســتخراجېږي او نــورو هېوادونــو ته د پروســس لپاره انتقالېږي. د مشت نمونه خروار په توګه همدا مهال د زنک او سرب استخراج یادولی شو. زراعت مو تر اوسه په هغه پخواني سبک روان دی او میکانیزه شوی نه دی. اوبیزې زېرمې او سیندونه مو د ګاونډیو هېوادونو غنم او جوار خړوبوي او موږ هر کال په میلیونونو ټنه غله او دانه له همدغو ګاونډیو ځخــه د خپل جېب په پیســو اخلو. دا ځکــه چې صنعت مو کمزورى دى او یا بیخي له نشت سره برابر دى. موږ لا تر اوسه د صنعتي انقلاب په صنف کې خپله دوه سوه کلنه غیرحاضري نه ده جبــران کړې، چې نن یو بل انقلاب زموږ په درشل ولاړ دى؛ هغه د مصنوعي ځیرکتیا یا AI ټکنالوژي ده.

د مصنوعي ځیرکتیا انقلاب

که صنعتي انقلاب د انسان د لاس او مټ ځواک څو چنده کــړ، مصنوعي ځیرکتیا یا AI د انســان د فکر او تحلیل ســرعت څو چنده کړى دى. ځکه AI ډېر پېچلي معلومات په ډېر لږ وخت کې تحلیلوي، احصایې په ثانیــو او دقیقو کې برابروي، کتابونه او تحقیقات په ډېره اســانۍ ســره ژباړي، اداري کارونه ورســره ساده شوي دي، اقتصاد، تعلیم خلص د انسان د ژوند په ټولو برخو کې یې نوي امکانات رامنځته کړي دي.

اوس اصلــي پوښــتنه دا ده چې موږ دې انقلاب ته څومره چمتووالی لرو؟

ایــا موږ چــټ جي پي ټي یــا مصنوعي ځیرکتیــا تــه یــوازې د پوښــتنو، انځور جوړولو، د اصلي او جعلي معلومولو او یا د لیکنو تصحیح کولو له زاویې کورو او که په ربنتیا ورته د یو بالقوه انقلاب په سترګه کورو؟ ایا موږ د دې ستر بدلون د عواقبو په اړه فکر کړى دى؟ ایا موږ د دې انقلاب د خطرونو د کمولو او یا له منځه وړلو لپاره د نظام په کچه کوم مشخص پلان او پالیسي لرو؟ ایا مــوږ د صنعتي انقلاب له ترخې تجربې ځخه عبرت نه دى اخیستى او که موږ به یو ځل بیا د یو بل انقلاب د ســون توکي او نندارچیان پاتې کېږو؟

مصنوعــي ځیرکتیا د افغانســتان په ځېر هېوادونو لپاره د چټک او اغېزمن پرمختګ بڼــه زېرى دى ، ځکه موږ کولى شــو په ګټو تعلیمــي او تربیوي برخــو کې ترې ګټه واخلــو او د صنعتي انقلاب په برخه کې خپله لویه غیرحاضــرې پرې جبران کړو. په افغانســتان کې متخصصین کم، امکانات محــدود او ضرورتونه ډېر دي؛ موږ لــه مصنوعي ځیرکتیــا ځخه د یوې ګټورې وســیلې په توګه په ګټو برخو کې مثمره اســتفاده کولى شو. خو له دې ګټو سره سره یې ځینې خطرونه او ننګونې هم جدي پاملرنې تــه ارتیا لري؛ ځکه پردې AI سیســتمونه یوازې خوابونه نه راکوي، بلکې زموږ معلومات، کمزورى او پروژې هم له ځان ســره ټولوي. لکه د مصنوعي ځیرکتیا مشهور ماډل، چټ جي پي ټي، چې اوس زموږ اکثره هېوادوال ورسره اشنا دي. د دغه ماډل د ځواب ورکولو طریقه د هــر کارووونکي لپاره جلا او د هغه له فکر او اســتعداد سره برابره وي. دا ځکه چې د دې تر شــا لوی لوی سرورونه او د ډېټا یا محتوا د ذخیره کولو لپاره ستر ډېټا سنټرونه فعال دي.

په دې برخه کې حساســو او نظامي ادارو تــه د بې‌احتیاطه اســتعمال زیات خطر متوجــه دى، ځکه هغــه معلومات چې باید ډېر خوندي وســاتل شي، موږ یې په خپله داسې پردیو سیستمونو ته ورکوو چې سبا زموږ پر ضد کارېدلى شي او یا یې د دې سیستمونو مالکان د خپلو سیاسي او مالي ګټو په خاطر هغو کسانو ته رسولى شــي چې دې معلوماتــو او اطلاعاتو ته ارتیا لــري. دا کومه عادي خبره نه ده او نه یــو خیالي تصور دى، بلکــې دا یو عیني واقعیت دى چې موږ ورسره مخ یو.

افغانستان د مصنوعي ځیرکتیا په اړه منظم او د نظام په کچه کار ته ارتیا لري. دا لوى کار دى او یوه داسې ځانګړې اداره، مرکز یا انسټیټیوټ باید ورته جوړ شي چې د AI ټول ارخونه وڅېړي، پالیسۍ ورته برابرې کړي، متخصص کسان ورته راټول کړي، او که متخصص کســان موجــود نه وي، ورته و یې روزي؛ ځکه نن ســبا د انلاین زده‌کړو پر مټ ډېر څه ممکن شوي دي.

همدا ډول د مصنوعي ځیرکتیا د استعمال اصول او حدود وټاکل شــي، د حساسو معلوماتــو د خوندیتــوب لپــاره یو جلا میکانیزم جوړ شــي، تر څــو په مفیدو او مؤثرو برخو کې د مصنوعي ځیرکتیا ګټور او بې‌خطره استعمال ته لار پرانیستل شي. موږ باید مصنوعي ځیرکتیــا ته نه یوازې د یــو نــوي پرمختګ په ســترګو وګورو، بلکــې د نوي عصر د یو ځــواک په توګه یــې تعبیر او درک کړو. کــه چېرې منظم او پوره چمتووالــی ورته ولرو، دا انقلاب زموږ د ودې او پرمختګ لپاره ښــه وسیله کېدای شي، او که غافل پاتې شو، د یو بل ناکام او عبرتناک بدلون ښکار کېږو. که په دې برخه کې مشــرانو او نورو متخصصو ملګــرو کار کــړى وي، یا غــواړې ګډه ځېرنه او عملي کار پیل کړي، زه ورسره د همکارۍ لپاره چمتو یم. دا کار باید وشي، ښه وشي، منظم وشي، او تر ناوخته کېدو مخکې وشي.

وما علینا إلا البلاغ

سراسر بې‌خبرې ده چې خبر شومه له رازه
پابندي د امتیاز ده، هم بهر له امتیازه
د حمزه د زړه مجنونه، کــه دا ټول جهان شي نجد
خو کاروان ســتا د مراد به ښکاره کېږي له حجازه

د دین روح

شپږ ځلوېښتمه برخه ـ میا نور آغا حقاني

تهذیــب الأخلاق: په لمونځ کې د کمیت په اعتبار کیفیت ډیر مهــم دی، یعنې که ځوک ډیر نفــل کوي خو زر زر یې کوي، د طمانیــې او د ارکانــو د تعدیل لحاظ نه ســاتي، توجه یې هم ســمه برابره نه وي، لــه دې ځخه کم نفل کــول چې په توجه او طماني سره وشــي او د ارکانو د تعدیل لحاظ په کې وســاتل شــي ډیر بهتر دي، د رســول الله صلی الله علیــه عمر ۶۳ کالــه و، پــه دې عمر کې یــې له عبادت سره سره د ژوند او دین اړوند ټولې چارې تر ســره کولې، د رســول الله په نسبت په امت کې یا پــه پخوانیو امتونو کې د ډیرو اوږدو عمرونــو عابدان تیر شــوي، خو د ټولو عبادت ثواب د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبادت ثواب ته نه رسیږي؛ ځکه د رســول الله صلی الله علیه وسلم عباد د کیفیت په لحاظ تر ټول لوړ و، اکر چې د کمیت په لحاظ ســره د نورو خلکو لمنځونه زیات دي، د دې مثال د اوسپنې او پنبــې (مالوچو) ده، پنبه که څه هم ډیر حجــم ولري خو د لږ جحم وســپنه پرې درنه وي، همداســې په لمونځ او عبادت کې د کمیــت او کیفیت مثال دی، له دې امله باید په لمونځ او عبادت کې د کیفیت لحاظ وســاتل شــي، په پــوره خلوص، اطمینان او آدابو ســره باید تر ســره شي، تر څو یــې ثمرات، ثوابونه زیات او د الله تعالــی په نــزد یې قبولیت هــم ډیر وي، لکــه څنګه چې اللــه تعالی د انســانانو پــه عبادت خوشــحالیږي او د ملایکه په وړاندې فخر پــرې کوي، پــه اجتماعي عبــادت کې د الله تعالی رضا او فخر نور هم زیاتیږي، همدارنګه د ځینو مخلصینو د عبــادت د برکت او قبلېــدو له امله الله تعالی د ټولــو حاضرینو عبادت قبلوي، د مســلمانانو تر منځ وحــدت او یوالی ډیر هم عمل دی تر څو د فساداتو، اختلافونو او افتراقونو مخه ونیول شــي، په مساجدو او عیدګاوو کې له اجتماعي عبادت ســره دغه مهــم عمل ته هــم لاره هواریږي او د مســلمانانو تر منــځ د یوالي او وحدت څرګندوییې په بنــه توګه ترې کیږي، چې مســلمانان د بل له احوالو خبر شي، د یو بل مرســته وکړي، همدارنګه صله رحمي هم د اجتماعیت، انس او الفت له امله د الله تعالی په نزد له بندګانو ځخه مطلوبه ده، چې دا اجتماعي عبادت له یو بل سره د قوي صله رحمي ســبب هــم ګرځي. خلاصــه پــه لمونــځ کــې د تهذیــب الأخــلاق، تدبیــر منــزل او تدبیــر مدن ټولــو احتمالات شــته خو ډیــر تاثیرات یــې په تهذیــب الأخلاق بانــدې دي له دې املــه مو پــه تهذیــب الأخلاق کې یادونــه وکــړه. و الله أعلــم و علمه اتم.

نــور بیــا...

بار ادبار جنگ را که ها بردوش می کشند؟

شیرمحمد استوار

نابرابری های اجتماعی و منافع در فراز و نشیب روز گار به نحوی از انحا باعث جنگ و تقابل میان کشورها گردیده، که پیامد آن ویرانی و از بین رفتن انسان ها گردیده اســت. همانگونه که واژه و یا کلمــه جنگ در لغت بــه معنی جدال ستیز، ناســاز گاری و کشمکش است کــه در حقیقــت امر خــلاف صلح، آرامش و برابریســت گذشــت زمان و تاریخ گواه جنگ های بزرگ و کوچک میان جوامع به گونه کشوری و گروهی به نحوی نشــان داده اســت، که پیامد جنگ جز تباهی، ویرانی و قتل انســان ها چیزی بیش نبوده است. آنچه که در این جستار مطمع نظر و غرض ماست، پیامــد جنگ میان دو کشــور می‌تواند بالای دیگر کشــور ها اثر سوء بگزارد چنانیکه شاعر زیبا ارشاد فرموده است:

بنــی آدم اعضــای یکدیگــر انــد.
کــه در آفرینــش زیــک گوهــر اند.
چــو عضــوی بــه درد آورد روز گار.
دیگــر عضــو هــا را نمانــد قــرار.

جنگ های گذشــته و فعلــی به گونه روشن نشان می‌دهد که اثر سوء جنگ میان دو و یا چند کشور تآثیر منفی خود را بالای تمام جوامع انســانی میگزارد. مثــال های زنــده ای از ایــن مدعا را می‌توانیــم از جنــگ میان روســیه و اوکراین که باعث مشکلات مواد اولیه و بهای آن در کشــورهای غربی به بار آورد بیاوریــم همچنــان جنــگ میان آمریکا- اسراییل و جمهوری اسلامی ایران که اثر ســوء آن بالای تمام کشور ها به وضوح قابل دید ونگرش اســت. امــروزه زهــر تلــخ ایــن جنــگ را کشــورهای منطقــه و در کل جوامــع انســانی به نحوی می چشند، بار ادبار جنگ میان ایــران و امریــکا را که ها بردوش می کشــند. واضح اســت که ملت ها بــار این ادبار آنــرا به نحوی از انحــا بــردوش می‌کشــند، امروزه بهای انــرژی، نفــت و گاز بی نهایت بالاگرفته اســت و تاوان آنــرا مردمان فقیر وتهی دســت بردوش می کشند. آنچــه که در چیســتی و چگونگی این بحث قابــل تمکین و کنکاش اســت زدودن و برچیــدن نابرابری ها و جنگ هاســت که چگونــه جلو ایــن بلای خانمانســوز را در جوامــع انســانی بگیریم تا باشــد ملت هــا در کار زار زندگــی و کشــور خویــش بتوانند به راحتی زیست و کار و فعالیت نمایند. بــه غــرض برچیــدن گلیــم جنگ و ســتیز از جوامع وکشــور ها علاوه از اینکه مســولین نظام های در کشور ها مسولیت حفظ صلح امنیت را بردوش دارند، نهاد های ذیربط جهانی چون: ســازمان ملل متحد، شورای امنیت و وساز مان ها اجتماعی جهانی رسالت دارند تا در زدودن ســتیز ونابرابری ها تحت هر نــام و عنوانی باشــد از راه های قانونی مطابق به قوانین وموازین پذیرفته شده جهانی حل وفصل گردد. به اســاس روابــط وداد وســتد های بازرگانــی نیــاز مندی هــای جوامع در ســطح جهــان بــه گونــه نورمل پیش مــی‌رود، حتا در بعــض موارد کشــورهاییکه بــه اســاس بــروز بلاهــای طبیعی آســیب مــی بینند از ســوی دیگر کشــور هــا و جامعه جهانــی کمــک می‌گــردد تا باشــد مردمــان متضــرر واســیب دیــده آن دوبــاره بــه پــای خود بایســتند. خداوند کره زمین را با داشــته هایش طــوری خلق کــرده کــه در صورت روابط نیک و داد و ستد های بازرگانی مشــکلات تمام کشور ها حل گردیده و بشــریت می‌توانند در در ســهولت و آرامش زیســت نماینــد. اما اینکار در صورتی ممکن اســت که صلح و عواطف انســانی را در نظر داشت، از جنگ و کشــمکش به جز درد و آلام چیز دیگری توشه و دستاورد نخواهیم داشت.

افغان اعلانات

اعلان تدارکات

آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین از تمام دواطلبان واجد شرایط دعوت می¬نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه و تدارک(۱۵۳) قلم وسایل برقی، نلدوانی، ایرکندیشن، لفت و نجاری مورد ضرورت مرکز وزارت امور شهداء و معلولین بابت سال مالی ۱۴۰۵، تحت شماره تشخصیه MOMDA/1405/NCB/G-1251 اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوطه را به¬طور رایگان در حافظه یا فلش دیسک از آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین و یا وبسایت ریاست تدارکات ملی (https:// tenders.ageops.af/prs/ bid-opportunities-notices) بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون عقود و طرزالعمل تدارکات طورسربسته ازتاریخ نشراعلان الی {روز یکشنبه مورخ ۱۱/اسد/۱۴۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر }به شعبه جلسه آفر گشایی آمریت تدارکات، منزل پنجم، تعمیر وزارت امور شهداء و معلولین واقع ایستگاه قلعه خیاط سرک میدان هوائی، ارائه نمایند, آفرهای نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی-باشد.

تضمین آفر بصورت {قابل تطبیق نیست} و جلسه آفرگشایی هم¬زمان با تاریخ تسلیمی آفرها روز{ یکشنبه مورخ ۱۴۰۵/۰۵/۱۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر } در شعبه جلسه آفرگشایی آمریت تدارکات، منزل پنجم ، تعمیر وزارت امور شهداء و معلولین واقع ایستگاه قلعه خیاط سرک میدان هوایی کابل، تدویر می¬گردد.

اعلان داوطلبی

موضوع: نشر اعلان پروژه تهیه و تدارک ۲۳ قلم تجهیزات دفتری ضرورت ریاست های وزارت!

شماره داوطلبی:

(MOMP-G-18-NCB-1405)

ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت بعمل میاورد تا در جلسه آفرگشایی پروژه تهیه و تدارک ۲۳ قلم تجهیزات دفتری ضرورت ریاست های وزارت که از طریق داوطلبی باز به اعلان سپرده میشود اشتراک نمایند، بدینوسیله از تمام داوطلبان (شرکت ها) واجد شرایط تقاضا بعمل میاورد تا درخواستی های شان را جهت دریافت شرطنامه به ریاست تدارکات الی تاریخ ۱۰اسد ۱۴۰۵ روز شنبه تسلیم نمایند و شرطنامه را دریافت نموده و جلسه آفرگشایی به تاریخ ۱۱ اسد ۱۴۰۵ روز یکشنبه ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر درریاست تدارکات برگذار میشود.

توانایی مالی برای پروژه مذکور مبلغ(۴,۰۰۰,۰۰۰) چهار میلیون افغانی میباشد.

اطلاعیه داوطلبی

موضوع: نشر اعلان پروژه تهیه و تدارک دو قلم وسایل امضا دیجیتلی ضرورت ریاست ام ای اس!

شماره داوطلبی:

(MOMP-G-19-NCB-1405)

ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت بعمل میاورد تا درخواستی های شان را جهت دریافت شرطنامه به ریاست تدارکات الی تاریخ ۸ اسد ۱۴۰۵ روزپنج شنبه تسلیم نمایند و شرطنامه را دریافت نموده و جلسه آفرگشایی به تاریخ ۱۰ اسد ۱۴۰۵ روز شنبه ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر درریاست تدارکات برگذار میشود.

توانایی مالی برای پروژه مذکور مبلغ (۶۵۰,۰۰۰) شش صد وپنجاه هزار افغانی میباشد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

ریاست عمومی رادیو در نظر دارد تا قرار داد پروژه ترمیم تشنابهای تاسیسات ریاست عمومی رادیو را با نمبر تشخیصیه RTA/۱۴۰۵/ NCB/W-۱۸۸۲ به ارزش مبلغ ۸۴۸۶۸۸ افغانی با شرکت ساختمانی سهیل وحید عقد نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که در زمینه اعتراض داشته باشند می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی مدت پنج روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به آمریت تهیه و تدارکات ریاست مالی و اداری ریاست عمومی رادیو واقع سرک چهاردهم وزیر محمد اکبر خان ارایه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی منعقد نخواهد شد.۳۷۷۸

اطلاعیه به اجاره دهی جایداد

مدیریت عمومی انکشاف زمین، آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی ولایت کابل در نظر دارد تا زمین امارتی ذیل را از طریق داوطلبی به اجاره دهد.

بدین وسیله از تمام داوطلبان و شرکت های محترمی که دارای اهلیت حقوقی، توانمندی مسلکی و تخنیکی، منابع مالی، تجهیزات لازم کارکنان فنی بوده و همچنان دارای تجربه مرتبط در امور تجارتی می باشند تقاضا به عمل می آید تا الی ۱۰ روز از تاریخ نشر این اعلان، درخواست های خویش را به مدیریت عمومی انکشاف زمین، آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی کابل تسلیم نمایند.

موضوع عبارت است از :

موازی (۱۵) بسوی زمین امارتی واقع باغ ریس ولسوالی سروبی دارای کوردینات نمبر (Y; ۵۶۷۳۸۶ X:۳۸۲۸۸۱۲ به منظور فعالیت (تجارتی) که سالانه فی جریب به مبلغ (۱۳۸۳) افغانی مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های امارتی،به اشخاص حقیقی و حکمی به اجاره داده می شود.۳۷۷۳

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت برادران سادات هروی لمتید یک عراده موتر پلیت ۲۸۵۹۲-ل کابل نوع مازدا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالهادی فرزند عبدالولی بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۷۷۱

اطلاعیه مفقوی

یک سند مکلیت زمین واقع ارزان قیمت ناحیه ۱۲ شهرک احمد بابا مینه به اسم عبدالروف فرزند عبدالقیوم ولدیت عبدالجلیل نمبر زمین ۵۶۱۰ مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۷۹۸

اطلاعیه مفقوی

یک قباله شرعی مثنی نمبر ۱۰۹/۱۰۰ مورخ ۱۴۰۱/۵/۲۹ مرتبه محکمه بگرامی به اسم عبدالاحد فرزند مرزا محمد ولدیت ملا علی مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۷۶۸

د یوناما نوې ...

انخور نړۍ ته وړاندې کړي او په پای کې د ملګرو ملتونو په سازمان کې د افغانستان ځوکې اسلامي امارت ته وسپارل شي.»

بل لور ته، یو شمېر سیاسي شنونکي وایي، چې په یوناما کې د مشرتابه بدلون کولی شي د کابل او ملګرو ملتونو ترمنځ د واټن د راکمېدو لپاره یو نوی فرصت رامنځته کړي؛ خو د دوی په باور، د دې مأموریت بریا به د دواړو لورو ترمنځ د باور جوړونې او د خبرو ځرنګوالي پورې تړلې وي.

سیاسي شنونکی، فیاض صافی وایي: «مونږ دا مأموریت په نېک فال نیسو؛ خو که نړیواله ټولنه په عمل کې رښتینولي ونه ښیي، د افغانستان کنګل شوې شتمنی ازادې نه شي، د خلکو ستونزو ته رسېدنه ونه شي او د افغانستان ځوکی په ملګرو ملتونو کې ونه سپارل شي، نو دا مأموریت به هم افغانستان ته د پام وړ لاسته راوړنې ونه لري.»

د نړیوالو اړیکو کارپوه، واحد فقیري هم وایي: «د رباب فاطمې ټاکنه کولای شي د اړیکو د ښه والي، د تعامل د پراختیا او د افغانستان د رسمیت پېژندنې پر لور د حرکت لپاره یو فرصت وي.»

د ملګرو ملتونو سرمنشي ټېره اوونۍ بنګله دیشي ډیپلوماته رباب فاطمه، د افغانستان لپاره د خپل خانګړي استازي او د یوناما د نوې مشرې په توګه وټاکله.

هغې ته په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندوي پلاوي (یوناما) د فعالیتونو د مشرتابه او پر مخ وړلو مسؤلیت سپارل شوی دی

له بیجینګ څخه ...

دهلېزونو له پراختیا سره د سوداګرۍ بدیلې لارې زیاتې کړي، په داسې حال کې چې وروستي سیمه‌ییز امنیتي کړکېچونه د سمندري بندرونو له لارې د وارداتو بهیر اغېزمن کړی دی.

پکتیکا کې څه ...

اختصاصي محکمې د متصرفینو او کمېسیون د اسنادو او مدارکو، املاکي دفاترو له دقیقې اروزنې او له اړوندو ادارو د معلوماتو له اخیستو وروسته پرېکړه وکړه، چې دغه ټوله ځمکه چې ۱۵ زره او ۲۷ جریبه کېږي، بلندآبه او امارتي ملکیت دی.

عدلیې وزارت ویلي، د یادې محکمې د پرېکړې پر بنسټ، متصرفین باید دغه ځمکه د ځمکو د غصب د مخنیوي او د غصب شوو ځمکو د استرداد کمېسیون ته وسپاري.

کندهار؛ د دامان ...

مهم بللي او ویلي یې دي: ((د دغه شان پروژو پلي کېدل؛ به د هېواد په لرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو کیفیت ښه کړي او د خلکو اړتیاوو ته به پر وخت خواب ووایي.»

ده زیاته کړې، چې د عامې روغتیا وزارت هڅه کوي د هېواد په ټولو سیمو، په خانګړې توګه لرې پرتو ولسوالیو کې د معیاري روغتیایي خدمتونو زمینه برابره او د ورته پروژو له لارې د خلکو اساسي روغتیایي اړتیاوو ته رسېدنه یقیني کړي.

هېره دې نه وي چې د یاد روغتون د جوړولو چاري به د ۱۸ میاشتو په موده کې بشپړې او کټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د نفتو او ګازو ...

توکه ترلاسه کړي. همداراز شرکت داد ځرګند کړی، چې د اړتیا په صورت کې به د هېواد نورو ولایتونو ته هم د پلور خدمات پراخ کړي، ځو د خلکو اړتیاوې په ښه ډول پوره او د انرژۍ د لاسرسي زمینه لا نوره هم برابره شي.

د افغانستان ...

جوړول او د ازبکستان له تولیدي فابریکو لیدنه شامل دي.د دغه سفر موخه د سوداګریزو اړیکو پراختیا، پانګونه او د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د اوږد مهاله اقتصادي همکاریو پراختیا ښودلی شوې ده.

اروپایي ټولنې ...

د مرستیال ویاند قاري تاج محمد همت وایي، د لومړنیو ارقامو له مخې په نورستان کې د ټبرې ورځې د سېلابونو له امله ۲۳ تنه شهیدان شوي، شاوخوا ۸۰ تنه ټپیان شوي او له ۱۰۰ څخه زیات نادرکه دي. نومورې زیاته کړې، چې د ژغورنې او لټون عملیات روان دي او ښایي د مرګ‌ژوبلې شمېر بدلون ومومي.

همدارنګه، په افغانستان کې د جاپان سفارت د نورستان په مرکز، پارون او یو شمېر نورو سیمو کې د سېلابونو له امله پر اوښتې مرګ‌ژوبلې خواشیني ښودلې او د قربانیانو له کورنیو سره یې خواخوږي څرګنده کړې ده.

د سفارت په اعلامیه کې راغلي چې د دغه هېواد سفیر «ماساموتو» سېلاب‌څپلو کورنیو ته تسلیت وایي او د ټپیانو د ښېرنې درملنې هیله لري.

په ټېر کال ...

کړې دي. په دغو سیمو کې د ۷۳ ډوله منرالونو شتون تثبیت شوی چې مرمر ډبره، ګچ، کلیسټ، چونه او یو شمېر نور معدني مواد پکې شامل دي.»

دغه وزارت زیاتوي چې د هېواد د کانونو په برخه کې د پانګونې لپاره د ښلاښلو هېوادونو، په ځانګړې توګه د منځنۍ اسیا هېوادونو لېوالتیا زیاته شوې ده.

یو شمېر اقتصادي شنونکي وایي چې د کانونو د برخې پراختیا کولی شي د کارموندنې زمینه برابره او اقتصادي وده پیاوړې کړي؛ خو دوی ټینګار کوي، چې کانونه باید په معیاري او شفاف ډول را و ایستل او پروسس شي.

اسلامي امارت په وروستیو کلونو کې هڅه کړې چې د کانونو د را ایستلو د قراردادونو د ورکړې له لارې د پانګونې جذب او د دغو سرچینو د کارونې زمینه برابره کړي

د اطلاعات او فرهنګ ...

هوکړه‌لیکونو د لاسلیک مراسمو کې وویل: خوانان د هر هېواد د پرمختګ او ځواک تر ټولو مهمه پانګه ده؛ خو په خبره یې دا هغه مهال ممکنه ده چې د علم او مسلکي زده‌کړو فرصتونه ورته برابر شي. نومورې وویل، د خوانانو د زده‌کړو پر وړاندې د شته ستونزو د حل لپاره یې هڅې کړې او د خصوصي پوهنتونونو له لورې د تخفیفونو اعلان د هېواد له خوانانو سره د هغوی د ژمنتیا ځرګندونه کوي. هغه د پوهنتونونو له مسوولینو وغونډتل چې لا ډېرو ښوزلو خوانانو ته د زده‌کړو زمینه برابره کړي او د ناحیو او خوانانو له مسؤلینو یې هم وغونډتل چې خوانان لورو زده‌کړو ته وهڅوي.

د یاد وزارت ویاند، قاري خبیب غفران، وویل چې وزارت د خوانانو د پیاوړتیا پروګرامونو په ترڅ کې ۱۵ سوه خوانانو ته په نړیوالو انلاین بازارونو کې د فریلانسرۍ له لارې د کار زمینه برابره شوې ده.د هغه په وینا، ۱۹ زره خوانانو ته د فریلانسینګ، کمپیوټر، ګرافیک ډیزاین، پروګرامینګ او د موبایل او کمپیوټر د ترمیم په برخو کې مسلکي زده‌کړې ورکړل شوې دي. غفران زیاته کړه چې د همدې پروګرام په دوام شاوخوا پنځه زره خوانان د ۳۰ خصوصي پوهنتونونو د تخفیفي زده‌کړو لپاره ورپېژندل شوي او د خوانانو د لا ښه ملاتړ لپاره له ۳۰ کورنیو او بهرنیو بنسټونو سره د همکارۍ هوکړې هم شوې دي.

د کابل د ۲۲ ناحیو د خوانانو رئیس، امید وزیري، دغه پروګرام د خوانانو لپاره مهم فرصت وباله او ویې ویل، د خوانانو ریاست تل هڅه کړې چې د دولت او خوانانو ترمنځ اړیکې پیاوړې وساتي. هغه له خصوصي پوهنتونونو وغونډتل چې د خوانانو اقتصادي ستونزې په پام کې ونیسي.

د پوهنتون استادانو هم د دولت او خصوصي سکټور ترمنځ د همغږۍ هرکلی وکړ. د هغوی په وینا، د هېوادونو د پرمختک بنسټ علم او زده‌کړې دي او د دغسې پروګرامونو دوام به د خوانانو د علمي ودې او مسلکي ظرفیت په لوړولو کې مهم رول ولوبوي.د یادونې وړ ده چې د دغو هوکړه‌لیکونو له مخې، ۳۰ خصوصي پوهنتونونو ژمنه کړې چې د اطلاعات او فرهنګ وزارت د خوانانو چارو ریاست له لوري ورپېژندل شوي خوانان به په تخفیفي فیس ومني، څو د لوړو زده‌کړو فرصتونه د لا ډېرو خوانانو لپاره برابر شي.

تاج محمد بهار

د هلمند په کجکي ...

جدي ستونزو سره مخ وې، چې د دغه پل په جوړېدو سره به دا ستونزې حل شي.»

د کجکي بل اوسېدونکي، عبدالستار وویل: «تاسو باور وکړئ چې زمونږ ببرنیو ناروغانو ډېر کله د سیند د ډکېدو پر مهال د کښتیو د نشتون له امله ساه ورکړې، د پل جوړېدل به زمونږ پر ژوند مثبت اغېز وکړي.» مسؤلین زیاتوي، که څه هم په ټېرو پنځو کلونو کې د هلمند د لیرې پرتو سیمو د اوسېدونکو د ستونزو د هوارۍ په برخه کې خپلې پرېکړې پلي شوې دي؛ خو لا هم د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره ډېر کار ته اړتیا ده.

وزارت فواید ...

وآمد وسایط، انتقال اموال تجارتی و محصولات زراعتی فراهم خواهد شد.

بر بنیاد اظهارات سخنگوی وزارت فواید عامه، این وزارت در کنار اجرای پروژه‌های جدید انکشافی در بخش زیربناهای ترانسپورتی، کار شماری از پروژه‌های ناتمام باقی‌مانده از گذشته را نیز از سر گرفته و قرارداد برخی از آن‌ها را تمدید کرده است تا خدمات ترانسپورتی بهبود یابد.

قیس قادری

د پکتیکا ټولې ...

داسې وې، چې اکثره ساحې یې بې برخې وې او په ټېرو کلونو کې الحمدالله وتوانیدو، چې ټولو ولسوالیو ته مخابراتي خدمات ورسوو او اوس داسې ولسوالي نه لرو چې، په هغې کې مخابراتي خدمات وجود ونه لري.»

بل لورته د پکتیکا یو شمېر اوسېدونکي د ټېر په پرتله په خینو ولسوالیو کې د مخابراتي شبکو فعالیتونو ته خوشحاله دي؛ خو له اړونده ادارو غواړي، چې له مخابراتي پوښښ پاتې سیمو ته هم خپل خدمات ورسوي.

د پکتیکا د نکې ولسوالی اوسېدونکی محمدخان د مخابراتي فعالیتونو په اړه وایي:

«مخکې بیخي زمونږ شبکې نه وې اوس دوه شبکې افغان بیسیم او سلام فعالي شوې دي او اټومانه هم مونږ ضرورت لرو چې فعالې شي.»

د دغه ولایت د زیړوک ولسوالی اوسیدونکی عبدالله خدارې بیا وایي، چې په سیمه کې یې مخابراتي شبکې سم کار نه کوي او له حکومت یې د لا غښتلتیا غوښتنه کوي:

«یوازې سلام مخابراتي شبکه شته؛ خو هغه هم کله کار کوي او کله نه، بیخي ضعیفه ده د انترنېټ سهولت بیخي نه شته. مسافرو لرو او کاله ناروغان وي نو باید خدمات ښه کړي.»

دا په داسې حال کې ده چې، د هېواد د ېلاښلو ولایتونو په خینو لرې اطرافي سیمو کې مخابراتي اسانتیاوې لا هم په نشت حساب دي او خلک یې له اړونده ادارو په دې برخه کې د کار غوښتنه کوي.

ټېره یوه میاشت ...

برابر نه شي او داسې پلمه ورنه کړل شي؛ ځکه د همدې کمېسیون له لارې دېر کسان هېواد ته راغلل؛ خو کله چې یې خپلې پیسې له بانکي حسابونو وایستلې، شخصي شناخرې یې حل کړې یا یې خپل ملکیتونه وپلورل، بیا له هېواده ووتل؛ خینې دوبی ته، خینې امریکا ته او خینې هم اروپا ته ولاړل.»

پخوانۍ ډیپلومات، عزیز معارج، وایي: «باید د دوی له کاري خواک، فکري ورټیا، تجربې او مسلک څخه ګټه واخیستل شي او ورته د کار زمینه برابره شي. که داسې ونه شي، هغه پیسې چې له بهر څخه یې له خان سره راوړې دي مصرف به کړي او وروسته به یو خل بیا له هېواده ووځي.»

دا په داسې حال کې ده چې له شخصیتونو سره د تماس کمېسیون د اسلامي امارت د رهبر د فرمان له مخې د ۱۴۰۱ لمریز کال د غویي (ثور) په میاشت کې جوړ شو.

د دغه کمېسیون دنده دا ده، چې د هغو سیاسي، پوخي، فرهنګي شخصیتونو او ملکي وګړو د بېرته راستنېدو زمینه برابره کړي، چې له هېواد څخه وتلي دي

جوزجان کې ...

د جوزجان په مرکز شبرغان او اقچې د دغو پروژو له پیل څخه هرکلی وکړ او دا یې د ښوونځیو د بنسټیزو ستونزو د هواري او د ښوونیزو شرایطو د ښه کېدو لپاره مهم ګام وباله.

ایران په کویټ ...

پارنل، سي‌بي‌اېس نیوز ته ویلي، چې د ۲۰۲۶ کال د جولای له ۷مې نېټې راهیسې د تېپانو شمېر نړدې ۱۰۰ تنو ته رسېدلی دی.

په ورته وخت کې، د امریکایي خواکونو مرکزي قومندانی (سنټکام) اعلان کړی، چې پر ایران یې د هوایي بریدونو نوې څپه پیل کړې ده.

همدارنګه، ایرنا خبري اژانس راپور ورکړی، چې د ایران د سیریک، بندرعباس او قشم په سیمو کې د چاودنو غږونه اورېدل شوي دي.

روانه میلادي ...

دا په داسې حال کې ده، چې د امریکا مرکزي قومانداني (سنټکام) هم درې ورځې مخکې ویلي وو، چې په اردن کې د امریکایي خواکونو پر مرکزونو د ایران د توغندیزو او بې‌پیلوټه الوتکو په بریدونو کې دوه امریکایي سرتېري وژل شوي، څلور نور ټپیان شوي او یو سرتېری ورک دی.

د یادونې وړ ده، د امریکا او ایران ترمنځ نښتې د دواړو هېوادونو ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړې له ختمېدو وروسته لسمې ورځې ته داخلې شوې دي.

ټرمپ پر ځینو ...

همدارنګه، په ګنبو کانادایي ښارونو کې یوازې د امریکایي الکولي مشروباتو پر پلور بندیز لګېدلی دی.

ټرمپ تر دې وړاندې هم پر کانادا د خنګلي اورونو د لوګیو له امله نیوکې کړې وې او ویلي یې وو چې د دغو لوګیو د مهار لګښت به هم د کانادایي توکو پر تعرفو کې شامل کړي.

د امریکا او کانادا ترمنځ د سوداګرۍ کړکېچ په وروستیو میاشتو کې زیات شوی او دواړه هېوادونه د تعرفو او سوداګریزو محدودیتونو له لارې پر یو بل فشار زیاتوي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: **انجنیرعُزیر بریالی**
آمر او مسئول مدیر: **محمد قاسم عزام**
مسئول سکرتر: **شېرمحمد نظري**
ډیزاینر: **مایار**
د ویبپاڼې مدیر : **ګل ولي افغانیار**
چاپ پته: مطبعه صنعتی احمد صمدی - چهار راهی صدارت - بلال مارکیت
پته: **اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل**

بریښنایی بڼه
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	٦٥.٩٥ افـ
یو یورو	٧٥.٣٠ افـ
یو پونډ	٨٦.٤٠ افـ
یو درهم	١٧.٩٦ افـ
زر ریال	٠٣٦.٠٣٥ افـ
زر کلداري	٢٣٠.٢٢٩ افـ
زر کلداري	٧٥٣.٧٤٤ افـ

د هوا حالات

٠٤:٤٠	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی
	٣١°C	٣٣°C	٣٧°C	٤٢°C	٤٥°C	٤٢°C	٢٨°C
٠٧:٠٨							

د کانونو او پترولیم وزارت:

په تېر کال کې د څه باندې ۱۰ میلیارده افغانیو په ارزښت د کانونو ترڅنګه لاسلیک شوي

د کانونو او پترولیم وزارت مسؤلین وایي، په تېر۱۴۰۴ لمریز کال کې یې له کورنیو شرکتونو سره د ۱۰۹ کانونو د را ایستلو تړونونه لاسلیک کړي دي، چې پکې د مالګې، سرب، جست، کچ او نورو منرالونو کانونه شامل دي.د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، له لاسلیک شویو قراردادونو څخه یو قرارداد په لویه کچه دی او د ټولو قراردادونو مجموعي ارزښت له ۱۰ میلیارده او ۲۰۹ میلیونو افغانیو څخه زیات دی.همداراز، په همدې کال کې د هېواد په ۲۳ ولایتونو کې د کانونو ۲۷۲ سیمې سروې شوې دي.
د دغه وزارت ویاند، همایون افغان، په دې اړه وایي: «د ۱۴۰۴ لمریز کال په ترڅ کې د کانونو او پترولیم وزارت د هېواد په ۲۳ ولایتونو کې ۲۷۲ معدني سیمې سروې . . .

۳مخ

د اطلاعات او فرهنګ وزارت له ۳۰ خصوصي پوهنتونونو سره د ځوانانو لپاره د تخفیفي زده‌کړو هوکړې لاسلیک کړې

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت
د جهادي آثارو د سانتي لوي ریاست
د ځوانانو چارو ریاست
د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د جهادي آثارو د سانتي لوي ریاست اړوند د ځوانانو
چارو ریاست او خصوصي پوهنتونونو سره د همکارۍ هوکړه لیکنو د لاسلیک
غونډې ته بلنه راغلاست.
به مراسم امضاء توافقنامه های همکاری میان ریاست امور جوانان، ریاست عمومی
حفظ آثار جهاد وزارت اطلاعات و فرهنگ و پوهنتون های خصوصی خوش آمدید.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت اړوند د ځوانانو چارو ریاست له لوري، ۳۰ خصوصي پوهنتونونو سره هوکړې وکړې، چې له مخې به یې د دغه وزارت له لوري مستحق ځوانانو پېژندل کېږي او بیا به دغه پوهنتونونو کې په تخفیف سره منل کېږي. دولتي او د خصوصي پوهنتونونو مسؤلینو په ځوانانو غږ وکړ، چې زده‌کړو ته مخه کړي او د ستونزو په رامنځته کېدو سره دې، له اړوند ادارو مرسته وغواړي.
د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د جهادي آثارو د سانتې لوی رئیس، مفتي محمد طاهر احمد، د دغو . . .

۳مخ

د هلمند په کجکي ولسوالۍ کې د ۱۸۰ میلیونه افغانیو په لګښت یو لوی پل جوړېږي

د هلمند په کجکي ولسوالۍ کې د ټولګټو وزارت له لوري د ۱۸۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د هلمند پر سیند د یو لوی پل د جوړېدو چارې پیل شوې. دغه پل د کجکي ولسوالۍ په اذان سیمه کې د ۲۸۰ متره په اوږدوالي جوړېږي، چې چارې به یې تر راتلونکو دوو کلونو بشپړې شي. مسؤلین وایي، د دې پل په جوړېدو سره به د هلمند د نوزاد، واشېر، بغني، باغران، ناومېش، موسې‌قلعه او سنګین ولسوالیو خپلې سیمې سره ونښلول شي.
د هلمند د ټولګټو چارو ریاست د کار او ساختمان آمر، احسان الله وایي: «زموږ دغه پروژه د هلمند کجکي ولسوالي په اذان سیمه کې پلې کېږي چې ۱۸۰ میلیونه افغانی لګښت پرې راځي او د ټولګټو وزارت له لوري یې لګښت ورکول کېږي. پروژه دوه کاله وخت نیسي او د هلمند شمالي او سویلي سیمې به د ورښتونو او د هلمند سیند د دکېدو پر مهال سره تړلې وي.» د هلمند د کجکي ولسوالۍ اوسېدونکي وایي، دا پروژه به ورته ګټې اسانتیاوې رامنځته کړي. د کجکي ولسوالۍ اوسېدونکي، حاجي احمد وایي: «موږ دېر خوښ یو، ځکه مخکې به مو د سیند د دکېدو پر مهال ناروغان او ارینې چارې له . . .

۲مخ

تماس کمېسیون:

تېره یوه میاشت کې له ۲۶۰ څخه ډېر کسان هېواد ته راستانه شوي

له افغان شخصیتونو سره د تماس کمېسیون وایي: په تېره یوه میاشت کې د دغه کمېسیون له لارې له ۲۶ څخه ډېر کسان بېرته هېواد ته راستانه شوي دي.
د دغه کمېسیون وياند، مولوي احمدالله وثیق زیاتوي، چې د کمېسیون د فعالیت له پیل راهیسې تر اوسه له ۱۳۷۱ څخه ډېر کسان بېرته افغانستان ته راګرځېدلي دي.
ښاغلي وثیق وایي: «په دې دله کې د تېر حکومت لوړپوړي چارواکي هم شامل دي؛ لکه وزیران، معینان، د امنیې قوماندانان، جنرالان، والیان، د پولیسو قوماندانان، د ولسي جرګې غړي او یو شمېر مسلکي کسان چې د همدې کمېسیون له لارې بېرته هېواد ته راستانه شوي دي.»
د بېلابېلو برخو یو شمېر شنونکي په دې باور دي چې د شخصیتونو بېرته راستنېدل د هېواد د اقتصادي او علمي ودې لپاره ګټور تمامېدای شي؛ خو ټینګار کوي، چې باید د هغوی له تجربو او ورتیاوو څخه په خپلو تخصصي برخو کې اغېزناک ګټه واخیستل شي.
سیاسي شنونکی، ادریس محمدي خاځي، وایي: «باید دغو کسانو ته د بېرته وتلو فرصت . . .

۳مخ

وزارت فواید عامه کار قیرریزی سرک بگرام - جبل‌السراج را با هزینه ۳۴۲ میلیون افغانی آغاز کرد

مسئولان وزارت فواید عامه از آغاز کار قیرریزی بخش باقی‌مانده لین دوم سرک کابل-پروان، از ساحه دوراهی بگرام تا بازار ولسوالی جبل‌السراج، خبر داده‌اند.
محمد اشرف حق‌شناس، سخنگوی وزارت فواید عامه، در صفحه ایکس خود نوشته است که این پروژه به طول ۲۵.۶ کیلومتر و عرض ۱۰.۲ متر، با حضور شیخ عزیزالرحمن منصور، والی پروان، مسئولان شرکت قراردادی و شماری از مسئولان محلی، رسماً افتتاح و کار آن آغاز شده است.
به گفته وی، این پروژه شامل قیرریزی بخش‌های ناتکمیل لین دوم سرک بگرام-جبل‌السراج است که بخشی از آن در گذشته تکمیل شده بود. کار بخش باقی‌مانده این پروژه به ارزش ۳۴۲ میلیون افغانی با یک شرکت خصوصی قرارداد شده و هم‌اکنون جریان دارد.
سخنگوی وزارت فواید عامه افزوده است که این مسیر از شاهراه‌های مهم ترانسپورتی کشور به شمار می‌رود و کابل را با ولایت‌های شمالی وصل می‌کند. به گفته او، با تکمیل این پروژه، سهولت‌های قابل ملاحظه‌ای در رفت . . .

۳مخ

جوزجان کې د څلورو پروژو چارې پیل شوې

د جوزجان په مرکز شبرغان او اقچې ولسوالۍ کې د شاوخوا ۹ میلیونه افغانیو په لګښت د پوهنې په برخه کې د څلورو پراختیایي پروژو چارې پیل شوې.د جوزجان د پوهنې رئیس مولوي لعل جان راشد وایي، چې یادې پروژې د یوه همکار بنسټ په مالي ملاتړ پلې کېږي.د نومورې په وینا، په دغو پروژو کې د درسي ټولګیو جوړول او بیارغول، د احاطوي دېوالونو جوړول، د لمریزې بربښنا سیستم، د ماشومانو لوبغالي جوړول او د ښوونځیو د تاسیساتو بیارغونه شامله ده.ده زیاته کړه، چې د دغو پروژو په بشپړېدو سره به له ۱۵۰۰ څخه ډېر زده‌کوونکي له غوره ښوونیزو اسانتیاوو برخمن شي.په ورته مهال خایي مسؤلینو د پوهنې په برخه کې پانګونه د هېواد برخلیک سره تړلې موضوع وبلله او له همکارو بنسټونو یې وغوښتل چې همکاري پراخه کړي.د سیمې اوسېدونکو . . .

۳مخ

د پکتیکا ټولې ولسوالۍ تر مخابراتي پوښښ لاندې دي

د پکتیکا د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست مسؤلین وایي، تېر کال یې په مرکز او لرې پرتو ولسوالیو کې لسګونه مخابراتي آنټنونه نصب کړي چې، دا مهال د دغه ولایت ټولې ولسوالۍ تر مخابراتي پوښښ لاندې دي.د مسؤلینو په خبره چې، روان کال هم پلان لري څو په مرکز او ځینو نورو ولسوالیو کې شاوخوا ۵۰ نوي مخابراتي سایټونه نصب کړي.
د پکتیکا د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ رئیس محمد انور قیام وایي: پخوا خلکو په یو شمېر ولسوالیو د غړیدو اړیکو سربېره انټرنېټي خدماتو لاس رسی نه درلود او اوس یادې ستونزې حل شوې دي: «موږ په پکتیکا کې ځوارلس داسې ولسوالي درلودې، چې هغه کاملاً له مخابراتي پوښښ بې برخې وې او دا پاتې ولسوالي هم . . .

۳مخ

بهرني لنډ خبرونه

ایران په کویټ او بحرین کې د امریکا هوایي دفاعي سیستمونه په نښه کړي

د ایران پوځ اعلان کړی، چې د «صاعقه» عملیاتو په اتلسم پراو کې یې د توغندیزو بریدونو په ترڅ کې د کویټ د عریفجان په پوځي اډه کې د امریکا له لوري نصب شوی د توغندیو دفاعي سیستم په نښه کړی دی.د ایران د پوځ د اعلامیې له مخې، دغه بریدونه پر ایران د امریکا د وروستیو توغندیزو بریدونو په غبرګون کې ترسره شوي دي.د ایراني رسنیو د راپورونو له مخې، ایران د «نصر ۲» عملیاتو په دوام د بحرین د المحرق په سیمه کې د امریکا هوایي دفاعي سیستم او یو رادار هم په نښه کړی دی.
راپورونه زیاتوي، چې د بحرین د الرفاع په سیمه کې د امریکا د «پاتریوت» هوایي دفاعي سیستم هم د ایراني بې‌پیلوټه الوتکو په بریدونو کې له منځه وړل شوی دی.بل لور ته، د سي‌بي‌اس نیوز شبکې د امریکایي چارواکو په حواله راپور ورکړی، چې د روانې زېږدیزې میاشتې له پیل راهیسې په منځني ختیځ کې د ایران د بریدونو له املې نږدې ۱۰۰ امریکایي پوځیان ټپیان شوي دي.
د امریکا د دفاع وزارت (پنټاګون) ویاند، شان . . .

۳مخ

روانه میلادي میاشت د ایران په بریدونو کې نږدې ۱۰۰ امریکایي پوځیان ټپیان شوي

د راپورونو له مخې، د امریکا د جګړې وزارت یوه لوړپوړي ویاند ویلي، چې روانه میلادي میاشت کې تر اوسه د ایران په بریدونو کې نږدې ۱۰۰ امریکایي پوځیان ټپیان شوي دي.د پنټاګون لوړپوړي ویاند شان پارنل له «سي‌بي‌اس» سره په خبرو کې دغه شمېر تائید کړی دی.ده ویلي، چې د روان کال د جولای له

۷مې راهیسې د ایران له خوا په سیمه کې د امریکا پر پوځي اډو د بریدونو له املې نږدې ۱۰۰ امریکایي سرتېرو ته تر یوه حده زیان اوښتی دی.د ده په خبره، دغو امریکایي سرتېرو ته د اوښتو زیانونو دېره برخه «د مغزي ټکانونو» له املې ده.خو نومورې د دغو پوځي اډو نومونه نه دي په ډاګه کړي . . .

۳مخ

ټرمپ پر ځینو کانادایي توکو ۵۰ سلنه تعرفه لګولې

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د یوه اجرائیوي فرمان په لاسلیکولو سره پر ځینو کانادایي توکو ۵۰ سلنه تعرفه لګولې چې تاکل شوې د روان کال د اکسټ په ۱۹مه نافذه شي.
رویټرز د سپینې مانۍ په حواله ویلي، چې دا اقدام یې په کانادا کې د امریکایي موټرو، الکولي مشروباتو او لبنیاتو پر وړاندې د توپیري چلند په غبرګون کې کړی دی.
د سپینې مانۍ په وینا، کانادا نه یوازې پر امریکایي موټرو تعرفې لګولې، بلکې په ټیرو شاوخوا ۱۲ میاشتو کې یې د دغو موټرو واردات ۲۲ سلنه راکم کړي، په داسې حال کې چې له نورو هېوادونو یې د موټرو واردات زیات شوي دي . . .

۳مخ